

زمری محقق

# د بد مرغه هیلۍ بچی

دا د هانس کریستیان اندرسن (چې د نړۍ له تر ټولو نومیالیو د ماشومانو د کیسو لیکوالانو د جملې څخه دی.) د کیسویوه ډیر په زړه پوری بیلګه ده .

اندرسن ( H.C. Andersen (ناولونه، شعرونه، ډرامې او سفرنامې هم لیکلې، خو نړیوال شهرت یې د ماشومانو د افسانو له امله دی.

هغه له ۱۵۰ څخه ډېرې کیسې ولیکلې چې نن هم د نړۍ په لسګونو ژبو ژباړل شوې دي.

ځکه نو ما هم د ده دتر ټولو مشوره کیسو د جملې څخه دغه کیسه د ډنمارکی متن څخه په روانه پشتو ژبه ژباړلې او تاسو ته یې د خوند او پند په مقصدد وړاندي کړم .

باید وویل سي چې د هغه کیسې یوازې د ماشومانو د ساتېرۍ لپاره نه دي. په ډېرو کیسو کې د انسان ژوند، بېوزلي، غرور، مینه، امید، زغم او عدالت په سمبولیک ډول بیان شوي دي.
ځکه نو لویان هم د هغه له کیسو څخه ژور اخلاقي او ټولنیز درسونه اخلي له همدې امله ئې نو نړیوال شهرت موندلی دئ .

د هانس کریستیان اندرسن اثار د نړۍ په له ۱۵۰ څخه په ډېرو ژبو ژباړل شوي او د ماشومانو د ادبیاتو له مهمو آثارو څخه ګڼل کېږي. د هغه د زېږېدو ورځ (د اپریل دوهمه) د ماشومانو د کتاب نړیواله ورځ هم لمانځل کېږي، څو د ماشومانو په منځ کې د کتاب لوستلو دود وهڅول شي.

## دا یې هم د بـــــد مـــرغـــي هیـــــلۍ بچی کیسه :

په کلي کې هوا ډېره ښکلې وه؛ اوړی و! جوار ژیړ و، اوربشې شنه وې، واښه په شنه څړځایونو کې په ډېرو کې راټول شوي وو، او هلته سارس ( لک لک ) په خپلو اوږدو، سرو پښو گرځېده او مصري خبرې کولې، ځکه چې هغه ژبه له خپلې مور څخه زده کړې وه.

د کروندو او څړځایونو شاوخوا لوی ځنګلونه وو، او د ځنګلونو په منځ کې ژور جهیلونه وو؛ هو، دا په کلي کې واقعیا ښکلی ښاریدل .
 د لمر په منځ کې یوه زړه ماڼۍ وه چې شاوخوا یې ژور کانالونه وو، او له دیوال څخه تر اوبو پورې لویو بوټو وده کړې وه، دومره لوړ چې کوچني ماشومان کولی شوای چې د هغو لاندې مستقیم ودریږي؛ دا د ګڼ ځنګل په څیر وحشي بوټي و، او دلته یوه هیلۍ په خپل ځاله کې پروت وه؛ هغې باید خپل کوچني چیچیان له هګیو څخه راوویستلي وای، مګر اوس هغه تقریبا خواشینې وه ځکه چې هګۍ ډېرې ناوخته ماتېدې، او ډېر لږ څوک یې د لیدو لپاره ورتلې .

نورې هیلۍ به په ویالو کې په لامبو بوختې وې او له دې سره د خبرو لپاره به هلته نه ورتللې .

بالاخره، یوه ورځ د یوې هګۍ پسې بله کړک ماته سول .

«پیپ! پیپ!» د هګیو له دننه نازک ږغونو  واوریدل سوه . چیچیانو خپل ا واړه سرونه له هګیو را وایستل.

مور هیلۍ  ئې وویل:
«کوک! کوک!»

هغوی هم خپلې وړې چیغې ورسره بدرګه کړې او د شنو پاڼو لاندې یې هرې خوا ته وکتل.

مور یې پرېښودل چې هر څه په خپلو سترګو ووینې، ځکه شین رنګ د سترګو لپاره ګټور وي.



یوې وړې هیلۍ په حیرانتیا وویل:
«اې! نړۍ څومره لویه ده!»

هغوی ته اوس نړۍ د هګۍ له تنګې پوټکي څخه ډېره پراخه ښکارېده.

مور یې په موسکا وویل:
«تاسې ګومان کوئ چې همدا ټوله نړۍ ده؟ نه، نړۍ تر دې هم ډېره لویه ده. هغه د باغ تر هاخوا، د

کشیش تر کروندې پورې غځېدلې ده. البته زه خپله هم تر اوسه هلته نه یم تللې. خو... وګورم، ټول بچیان مې راوتلي دي که نه؟»

هغې سر پورته کړ او هګۍ یې وشمېرلې.

«نه، لا یوه هګۍ پاتې ده؛ هماغه تر ټولو غټه هګۍ. ده خو ولې نه ماتیږي؟ نور نو رښتیا هم له انتظار څخه ستړې شوې یم.»

نو بېرته پر هګۍ کښېناسته.

هماغه وخت یوه زړه هیلۍ د لیدو لپاره راغله او ویې ویل:
«نو، څنګه روان دي چارې؟»

مور هیلۍ په ستړي غږ ځواب ورکړ:
«دا یوه هګۍ مې هېڅ نه ماتیږي، خو نور بچیان مې وګوره! څومره ښکلي دي! ټول د خپل پلار په شان ښکاري، خو هغه بېوفا یو ځل هم زما د لیدو لپاره رانغی.»

زړې هیلۍ غټې هګۍ ته وکتل او ویې ویل:
«دا راته د فیلمرغۍ هګۍ ښکاري. زه هم یو وخت په همدې تېروتنه کې لوېدلې وم. ډېرې ستونزې مې وګاللې، ځکه د فیلمرغۍ بچیان له اوبو وېرېږي. هر څومره مې هڅه وکړه چې لامبو ته یې ښکته کړم، خو هېڅ ګټه یې ونه کړه. زما خبره ومنه؛ دا هګۍ همداسې پرېږده او خپل نور بچیان لامبو وهلو ته وروزه.»

مور هیلۍ وویل:
«نه، لږ نور به هم ورباندې کښېنم. چې دومره موده مې انتظار ایستلی، دا لږه نوره موده به هم تېره کړم.»

بوډۍ هیلۍ وخندل او ویې ویل:
«ښه، ستا خوښه!» او له هغه ځایه ولاړه.

څو ورځې وروسته بالاخره غټه هګۍ هم وچاوده.

«پيپ! پيپ!» يو لوی بچی ترې راووت.

هغه تر نورو ټولو غټ او خړ رنګه و.

مور هیلۍ حیرانه ورته وکتل او ویې ویل:
«دا خو څومره لوی هیلۍ بچی دی! له نورو سره هېڅ ورته والی نه لري. هسې نه رښتیا هم د فیلمرغۍ بچی وي؟ خو ژر به معلومه شي. اوبو ته به يې ښکته کوم، که خپله نه ځي، نو په خپله به يې ورټېل وهم!»

بله ورځ هوا ډېره ښکلې وه. لمر پر شنو پاڼو خپلې زرينې وړانګې شیندلې وې.

مور هیلۍ خپل ټول بچیان له ځالې را وایستل او د ویالې غاړې ته يې بوتلل.

هغې په چټکۍ سره ځان اوبو ته واچاوه.

«کوک! کوک!» يې غږ وکړ.

يو په بل پسې ټول واړه بچیان هم اوبو ته ورټوپ کړل. اوبه د هغوی تر سرونو واوښتې، خو هغوی سمدستي بېرته را پورته شول او په ډېره اسانۍ يې لامبو پیل کړه. وړې پښې يې په خپله خوځېدې، او آن هماغه خړ او بدرنګه بچی هم د نورو په څېر په ډېرې ښې طريقې لامبو وهله.

مور هیلۍ په خوښۍ وویل:
«نه، دا خو هېڅ د فیلمرغۍ بچی نه دی! وګورئ، پښې يې څومره ښه کار کوي او ځان څومره نېغ ساتي. دا زما خپل بچی دی. که ښه ورته وکتل شي، دومره هم بدرنګه نه دی.»

هغې بیا وویل:

«راشئ، زما پسې راشئ! اوس به مو د نړۍ له نورو سره اشنا کړم او د هیلیو انګړ ته به مو بوځم. خو تل راته نږدې اوسئ، چې څوک مو تر پښو لاندې نه کړي، او له پیشوګانو هم ځانونه ساتئ.»

مور هیلۍ خپلو بچیانو ته وویل:

«همداسې، لکه پلار او مور مو! غاړې مو نېغې ونیسئ او ووایئ: ”کوک! کوک!“»

هغوی هم همداسې وکړل. خو د انګړ نورو هیلیو هغوی ته وکتل او په لوړ غږ یې وویل:

«اوس خو لا دا نوې ډله هم راغله! لکه موږ چې لا کم وو! او دا یوه خو وګورئ، څومره بدرنګه ښکاري! داسې هیلۍ موږ نه شو زغملای.»

همدا وه چې یوې هیلۍ ورمخته شوه او هغه خړ هیلۍ بچی یې په څټ وچیچه.

مور هیلۍ په بېړه وویل:

«پرې یې ږدئ! هغه خو هیچا ته زیان نه رسوي.»

هغې هیلۍ ځواب ورکړ:

«هو، خو ډېر غټ دی او له ټولو بېل ښکاري؛ ځکه باید وځورول شي.»

هغه بوډۍ (زړې) هیلۍ، چې پر پښه یې سور ټوکر تړلی و، وویل:

«ستا نور بچیان ټول ښکلي دي، خو دا یو... نه دی سم راوتلی. کاشکې بېرته یې له سره جوړولای شوې!»

مور هیلۍ په درناوي وویل:

«اغلې! که څه هم ښکلی نه دی، خو زړه یې ډېر پاک دی. لامبو هم د نورو په څېر، بلکې تر هغوی هم ښه وهي. زه باور لرم چې د لویېدو سره به ښایسته شي، یا به لږ تر لږه بدن یې کوچنی شي. ښایي ځکه داسې شوی وي چې په هګۍ کې ډېر وخت پاتې شوی و.»

هغې د مینې له مخې د هغه پر غاړه خپله مښوکه تېره کړه او بڼکې یې ورسمې کړې.

بیا یې وویل:

«سربېره پر دې، دا نر دی. که ښکلا یې کمه هم وي، دومره مهمه نه ده. زه ډاډه یم چې غښتلی به شي او په ژوند کې به خپله لار ومومي.»

بوډۍ هیلۍ وویل:

«نور بچیان دې رښتیا هم ډېر ښکلي دي. اوس داسې آزاد وګرځئ لکه خپل کور چې وي، او که د مارماهي کوم سر مو وموند، ماته یې راوړئ.»

له هماغې ورځې وروسته ټول د انګړ له ژوند سره بلد شول، خو هغه بېچاره خړ هیلۍ بچی، چې تر ټولو وروسته له هګۍ راوتلی وو او بڼه یې له نورو بېله وه، هره ورځ له سپکاوي او ځورونې سره مخامخ و. هیلیو به چیچلو، چرګانو به ټونګونه ورکول او ټول به پرې ملنډې وهلې.

هغوی به ویل:

«دا خو ډېر غټ دی!»

حتی هغه مغرور فیل‌مرغ، چې پر پښو یې ښکرې وې او ځان یې د یوه پاچا په څېر ګاڼه، ځان به یې پړساوه، د هغه مخې ته به ودرېد، په لوړ غږ به یې نارې وهلې او له قهره به یې سر سور شو.

بېچاره هیلۍ بچی نه پوهېده چې چېرته ودرېږي او چېرته ولاړ شي. زړه یې له غمه ډک و، ځکه یوازې د دې لپاره چې بدرنګه و، د ټول انګړ د ملنډو هدف ګرځېدلی و.

لومړۍ ورځ همداسې تېره شوه، خو وروسته یې حالت لا پسې خراب شو. هر چا به ورپسې منډې وهلې او شړلو به یې. حتی خپلو وروڼو او خویندو به ورته ویل:

«کاشکې پیشو دې وخوري او موږ ځني خلاص شو!»

مور یې هم، چې د نورو له خبرو ستړې شوې وه، کله ناکله به په خواشینۍ ویل:

«کاشکې له دې ځایه ډېر لرې تللی وای!»

هیلیو به چیچلو، چرګانو به په مښوکو وهلو، او هغه نجلۍ چې د کور مرغانو ته به یې دانه اچوله، په پښه به یې هم ټېل واهه.



نور نو د بېچاره هیلۍ زغم پای ته ورسېد. په منډه او الوتنه یې ځان د کتارې هغې غاړې ته ورساوه. په بوټو کې ناست واړه مرغان د هغه له ناڅاپي راتګ څخه په وېره والوته.

هیلۍ بچي له ځان سره وویل:

«دا ټول ځکه دي چې زه بدرنګه یم.»

هغه سترګې پټې کړې، خو بیا هم روان و، تر دې چې یوې لویې دلدلې ته ورسېد؛ هلته وحشي هيلۍ اوسېدې.

هغه شپه يې هماغلته تېره کړه. ډېر ستړی او له غمه ډک و.

سهار چې وحشي هيليو هغه وليد، حيرانې شوې.

يوه يې وپوښتل:

«ته څوک يې؟»

هيلۍ بچي په ادب سر ه مخ ور واړاوه او سلام يې ور واچاوه .

هغوی وويل:

«رښتيا هم ډېر بدرنګه يې، خو موږ ته دې څه! تر هغه چې زموږ له کورنۍ سره خپلوي نه کوې، موږ کار درسره نه لرو.»

بېچاره هيلۍ د واده او خپلولۍ فکر لا نه کاوه. يوازې دومره يې غوښتل چې د نيو ترمنځ په ارام پروت وي او د دلدلې له اوبو څو غوړپونه وڅښي.

دوه ورځې همدلته پاتې و. بيا دوه وحشي غازي راغلل. دواړه نران وو او لا ډېر وخت نه و تېر شوی چې له هګيو راوتلي وو؛ ځکه ډېر شوخ او بې‌باکه وو.

هغوی ورته وويل:

«ملګريه! ته دومره بدرنګه يې چې زموږ بيخی بد در څخه راځي !

غواړې زموږ سره هغه بل ځای ته والوزې ؟ هلته نژدې يوه بله د نلانو او وښو ډکه سيمه ده، هلته ډېرې ښکلې وحشي بتي دي. ټولې پېغلې دي. که ورسره ولاړ شې، کېدای شي بخت دې هم ورسره وخاندي؛ ځکه ته خو بېخي بې‌ساری بدرنګه يې!»

لا یې خبرې نه وې پای ته رسېدلې چې ناڅاپه د ټوپک غږ پورته سو.

«دزا دزا!»

دواړه وحشي غازي (بتۍ ) سمدستي مړې شوې او د نیو( نلانو) ترمنځ ولوېدل. اوبه هم په سرو وینو رنګینې سوې.

یو ځل بیا د ډزو غږونه پورته شول. د وحشي بتو(ګازانو) لویې ډلې له نیو والووتې، خو ښکارچیانو پرې پرله پسې ډزې کولې. د سیمې هر لوري ته ښکارچیان کمین نیولي وو، ځینې ان د ونو تر څانګو ناست وو. د باروتو شین لوګی د تورو ونو ترمنځ او د اوبو پر مخ خپور سوی وو .

شېبه وروسته د ښکار سپي هم راورسېدل. د ختو په منځ کې یې منډې وهلې او نلان او لوخړې یې ښورولې.

بېچاره هیلۍ له سختې وېرې خپل سر د وزر لاندې پټ کړ.

هماغه شېبه یو لوی او ډارونکی سپی ورته ودرېد. اوږده ژبه یې راځوړنده وه، سترګې یې برېښېدې او تېرو غاښونو یې خوله ډکه کړې وه. خوله یې د هیلۍ بچي تر مخه راورسوله...

خو ناڅاپه  ئې مخ واړاوه او روان شو.

هیلۍ بچي په ریږدیدلی ږغ  وویل:

**«خدایه، ستا شکر! زه دومره بدرنګه یم چې آن سپی هم نه غواړي ما وچیچي.»**

هغه هماغسې بېحرکته پروت پاتې شو، تر هغه چې د ټوپکونو غږونه ورو ورو چوپ شول.

د ورځې تر ډېره ناوخته وروسته فضا ارامه شوه، خو هغه لا هم د پورته کېدو زړه نه درلود. څو ساعته نور یې هم انتظار وکړ. بیا چې ډاډه شو، له مزرعې راووت، په منډه د کروندو او څړځایونو په لارې روان شو. باد سخت لګېده چې تګ یې ډېر ستونزمن کړی و.

ماښام ته نږدې، بالاخره د یوه بېوزلي بزګر کوچني کور ته ورسېد...

کور دومره زوړ او وران و چې خپله هم نه پوهېده  چې کوم لوري به ئی ونړېږي . سخت باد لګېده او بېچاره هیلۍ بچی یې دومره ځوروۍ چې  دې ته اړ شو پر لکۍ کښېني، څو ځان وساتي. باد لا پسې زور واخیست.

ناڅاپه یې پام شو چې د کور د وره (دروازه ) یوه ځوړنده ده او کږه ولاړه ده. د دروازې په یوه درز کې دومره ځای و چې هغه ترې دننه تېرېدلی شو. نو ورو ورو خونې ته ننوت.

په هغه کور کې یوه بوډۍ ښځه له خپلې پیشو او چرګې سره اوسېده. د پیشو نوم «زویه» و. هغه به ملا کږوله، پړپړ به یې کول او کله به چې ئی چا پر وېښتانو باندي  لاس ورتېراوه، نو ان له بدن څخه به یې وړې وړې سپرغۍ هم راوتلې. چرګه لنډې پښې لرلې، له همدې امله به یې «لنډهپښه چرګه» بلله. هغې ډېرې هګۍ اچولې، او بوډۍ ښځې به د خپل اولاد په څېر مینه ورسره کوله.

سهار وختي یې د نوي مېلمه شتون احساس کړ. پیشو پړپړ پیل کړ او چرګې «کوک کوک» نارې کړې.

بوډۍ ښځې وویل:
«دا څه شی دی؟»

هغې ښه نه لیدل، نو ګومان یې وکړ چې دا یوه چاغه هیلۍ ده چې لاره یې ورکه کړې ده.

هغې په خوښۍ وویل:
«دا خو ډېر ښه ښکار شو! که نر نه وي، نو اوس به د هیلۍ هګۍ هم ولرو.»

نو هیلۍ بچی یې د ازموینې لپاره په کور کې وساته.

درې اوونۍ تېرې شوې، خو یوه هګۍ هم پیدا نه شوه.

په هغه کور کې پیشو ځان د کور مالک ګاڼه او چرګه ځان د کور مېرمن. دواړو تل ویل:

«موږ او نړۍ!»

دوی باور درلود چې د نړۍ تر ټولو مهم موجودات همدوی دي.

د هیلۍ بچي فکر وکړ چې ښايي نور هم بېلابېل نظرونه ولري، خو چرګې دا خبره ونه منله.

هغې وپوښتل:

«ته هګۍ اچولای شې؟»

هیلۍ بچي وویل:

«نه.»

چرګې وویل:

«نو ښه ده، خوله دې بنده وساته.»

پیشو هم وویل:

«ته ملا کږولای شې؟ پړپړ کولای شې؟ سپرغۍ ایستلای سې؟»

هیلۍ بچي ځواب ورکړ:

«نه.»

پیشو وویل:

«نو بیا چې هوښیار خلک خبرې کوي، ته باید خپل نظر ونه ښیې.»

بېچاره هیلۍ بچی د خونې په یوه کونج کې غلی کښېناست. زړه یې تنګ و. ناڅاپه یې د ازادې هوا، د لمر د وړانګو او د اوبو یاد ورغی. دومره یې د اوبو هیله پیدا شوه چې نور یې ځان نه شو ایسارولای.

هغه چرګې ته وویل:

«په اوبو کې لامبو وهل څومره خوند لري! څومره ښه وي چې انسان پر اوبو وخوځېږي، سر اوبو ته ښکته کړي او تر تل پورې غوټه ووهي.»

چرګې په ملنډو وويل:

«ته خو ښايي لېونی شوی یې!»

بیا یې زیاته کړه:



«له پیشو څخه وپوښته، هغه تر هر چا هوښیاره ده، وګوره چې هغه لامبو خوښوي او که اوبو ته غوټه وهل؟ زه خو لا خپله هېڅ خبره نه کوم. که زموږ له بوډۍ مېرمنې وپوښتې، هغه د نړۍ تر ټولو پوهه ښځه ده. ته فکر کوې چې هغه به هم دا خوښه کړي چې ځان اوبو ته واچوي او سر یې لوند شي؟»

هیلۍ بچي په ارامۍ وويل:

«تاسې نه پوهېږئ.»

چرګې ځواب ورکړ:

- «که موږ نه پوهېږو، نو بیا به دې څوک پوه شي؟ ته به تر پیشو او زموږ تر بوډۍ مېرمنې هم ډېر هوښیار یې؟ زما خبره واوره! د خدای شکر وباسه چې تا ته یې تود کور او داسې ملګري درکړي چې څه در زده کړي. خو ته یوازې بېځایه خبرې کوې، او له تا سره ناسته پاسته خوند نه کوي. باور وکړه، زه ستا خیر غواړم. کله چې رښتیني دوستان نصیحت کوي، تل خوږې خبرې نه کوي. نو ښه ده چې هګۍ اچول زده کړه، یا د پیشو په شان پړپړ کول او سپرغۍ ایستل.»
-
- **( سپرغۍ** په پښتو کې د اور کوچنۍ شرارې ته ویل کیږي ژباړن ) (sparks)

هیلۍ بچي ورته وویل:

«زما په اند، غوره ده چې له دې ځایه ووځم او پراخې نړۍ ته ولاړ سم.»

چرګې بېپروا وویل:

«ښه، همداسې وکړه!»

هیلۍ بچی روان شو.

هغه به په اوبو کې لامبو وهله، غوټې به یې وهلې، خو هر ځای به د خپلې بدرنګۍ له امله سپک ګڼل کېده او هېچا به نه مانه.

ورو ورو منی راورسېد. د ځنګل پاڼې ژېړې او نسواري شوې. باد به راوالوت، پاڼې به یې تاوولې او هرې خوا ته به یې نڅولې. په اسمان کې د یخنۍ نښې ښکارېدې؛ درنې ورېځې له ږلۍ او واورې ډکې وې. کارغه به پر کټاره ناست و او له یخنۍ به یې «کا، کا!» نارې وهلې. یوازې د دې منظرې په تصور هم سړی یخېده.

بېچاره هیلۍ بچی له سختو ورځو سره مخ و.

یوه ماښام، چې لمر په ښکلې شان لوېده، ناڅاپه له بوټو څخه د لویو او سپینو مرغانو یوه ډله راووته.

هیلۍ بچي تر دې مخکې دومره ښکلي مرغان هېڅکله نه وو لیدلي. د هغوی بڼکې د واورې په څېر سپینې وې، اوږدې او نرۍ غاړې یې لرلې، خوځښتونه یې نرم او باوقاره وو.

هغوی بتي  ( قو ) وي .

دوی یو زړه راښکونکی غږ پورته کړ، خپلې ښکلې او ځواکمنې وزرې یې وغوړولې او له سړو سیمو څخه د تودو هېوادونو او ازادو ډنډونو پر لور والوتل.

هغوی لا پسې جګ، لا پسې جګ پورته کېدل...

هیلۍ بچی په داسې احساس اخته شو چې مخکې یې هېڅکله نه و تجربه کړی. په اوبو کې د یوې څرخېدونکې پاڼې په څېر تاو شو، غاړه یې تر وسه لوړه کړه او د هغوی په لور یې داسې چیغه کړه چې خپله هم له خپل غږه وډار شو.

هغه نور هېڅکله هغه ښکلي او خوشاله مرغان هېر نه کړل.

کله چې یې  هغوۍ له سترګو پناه شول، هغه د اوبو تل ته غوټه شو. چې بېرته راوخوت، داسې ښکارېده لکه له ځانه چې بیګانه  وي.

هغه نه پوهېده چې د دغو مرغانو نوم څه دی او نه یې دا معلومه وه چې کوم لوري ته روان دي، خو دومره یې احساسوله چې له هغوی سره یې داسې مینه پیدا شوې ده، لکه له هېچا سره چې یې مخکې نه وه کړې.

هغه ورسره حسد نه کاوه. آن دا خیال یې هم نه شو کولای چې یوه ورځ به د هغوی په څېر ښکلی شي. د هغه یوازینۍ هیله دا وه چې کاشکې نورو هیلیو اجازه ورکړې وای چې د هغوی ترمنځ په سوله او ارام ژوند وکړي.

خو هغه لا هماغه بېچاره، بدرنګه هیلۍ بچی و...

او ژمی راورسېد؛ داسې سخت، داسې یخ ژمی چې...

ژمی سخت شوی و. کوچنۍ هیلۍ به په اوبو کې لامبل، څو اوبه په بشپړه توګه یخې نه سي. خو هره شپه هغه سوری چې پکې یې لامبل، لا پسې تنګېده. یخ به دومره سخت کېده چې د یخ پوښ به له درزه درزه غړ کاوه. هیلۍ به مجبوره وه تل خپلې پښې وخوځوي، څو اوبه پرې بندې نه شي. په پای کې سترې او بې وسه شوه، بې‌حرکته پرته وه او په یخ کې کلکه کنګل شوه.

سهار وختي یو بزګر راغی. هغه هیلۍ ولیده، ورنږدې سو، د خپلو لرګیو او بوټونو په مرسته یې یخ مات کړ او هیلۍ یې کور ته خپلې مېرمنې ته یوړل. هلته یې توده کړه او بېرته ژوندۍ شوه.

ماشومانو غوښتل ورسره لوبې وکړي، خو هیلۍ فکر وکړ چې دوی غواړي زیان ورته ورسوي. له وېرې په ټوپ د شیدو لوښي ته ولوېده، شیدې په ټولې کوټې کې وپاشل شوې.

ښځې چیغه کړه او لاسونه یې پورته کړل. هیلۍ بیا د کوچ په ټب کې ولوېده، له هغه ځایه د اوړو بېرل ته ورولوېده او بیا راووته. اوس نو ټوله په اوړو ککړه وه. ښځه ورپسې منډه کړه چې هغه ووهي، ماشومان هم په خندا او چیغو پسې منډې وهلې چې هیلۍ ونیسي.

نېکمرغه دا وه چې دروازه خلاصه وه. هیلۍ د بوټو ترمنځ تازه ورېدلې واورې ته وتښتېده او هلته داسې پریوتل لکه په ژور خوب چې ویده  وي.

که د هغې د سخت ژمي ټولې کړاوونه او بدمرغۍ بیان سي، کیسه به ډېره خواشینوونکې شي.

هغې په ډنډ کې ژوند تېراوه، تر هغه چې لمر بیا په تودو وړانګو وځلېد. مرغانو سندرې پیل کړ او ښکلی پسرلی راغی.

ناڅاپه یې وزرونه وغوړول. وزرونه یې تر پخوا ډېر پیاوړي سوي وو او هغه یې  په اسانۍ سره هوا ته پورته کړه.

ډېر ژر، یوه  داسي ستر بڼ ته ورسېده چې  د مڼو ونې په ګلونو پوښلې وې، د یاسمنو خوشبویه ګلان غوړېدلي وو او اوږدې شنې څانګې یې تر شاوخوا  ویالو پورې راځړېدلې وه.

څومره ښکلی او د پسرلي له تازګۍ ډک ځای و!

هماغه مهال له ونو څخه درې ښکلې سپینې بتې راووتلې. وزرونه یې وغوړول او په ډېرې ښکلا یې په اوبو کې لامبو پیل کړل . هیلۍ هغوی وپېژندلې. د دوی ښکلا یې زړه د خواشینۍ څخه ډک کړ.

هغې ( د بتي چیچي ) له ځان سره وویل:
«که زه دغو شاهي مرغانو ته ورشم ، ښایي ما ووژني، ځکه زه چې دومره بدرنګه یم ، څنګه جرأت وکړم چې هغوی ته ورنږدې شم؟ خو پروا نه لري. ښه ده چې د دوی له لاسه ووژل شم، تر دې چې تل د بتو له چونچونو، د چرګانو له ټکونو، د چرګانو د پالونکې نجلۍ له لغتو او د ژمي له کړاوونو سره ژوند وکړم.»

نو اوبو ته ورولوېده او د بتو پر لور یې لامبل پیل کړل. هغوی هم ورنږدې سول او د خپلو لویو سپینو وزرونو په خوځولو یې هرکلی وکړ.

هیلۍ خپل سر د اوبو پر لور ټیټ کړ او ویې ویل:
«ما ووژنئ!»

هغې د مرګ انتظار کاوه. خو کله چې یې په روښو اوبو کې وکتل، خپل انځور یې ولید. نور هغه بدرنګه، تورخړ، بې‌خونده مرغۍ نه وه. هغه خپله یوه ښکلې بته شوې وه.

**رښتیا هم، که څوک د بتو په انګړ کې وزېږي، هېڅ خبره نه ده، تر څو چې د بتي له هګۍ راوتلی وي.**



هغې خپل ټول تېر دردونه او کړاوونه هېر کړل او پوه سول چې هماغه سختۍ یې د ننني نېکمرغۍ ارزښت ورښود. سترې بتې چاپېره ترې راګرځېدې او په مینه یې په خپلو چونچونو نازوله.

په همدې وخت کې څو کوچني ماشومان بڼ ته راغلل. هغوی ډوډۍ او غلې دانې اوبو ته وغورځولې.
تر ټولو کوچني ماشوم په خوښۍ نارې کړې:
«نوې بته راغلې ده!»

نور ماشومان هم خوشحاله شول:
«هو! یوه نوې بته راغلې ده!»

هغوی لاسونه پړقول  او چک چکي یی کولی، نڅا یې کوله، مور او پلار یې هم راوبلل. ډوډۍ او کیک یې اوبو ته وغورځول او ټولو وویل:
«دا نوې بته  تر ټولو ښکلې ده! ځومره ځوانه او ښکلې ده!»

زړې بتې هم هغې ته په درناوې سر ټیټ کړ .

دې  ځان ډېر عاجز احساس کړ. خپل سر یې د وزرو لاندې پټ کړ، ځکه نه پوهېده څه وکړي. هغه دومره خوشحاله وه چې د خوښۍ اندازه یې نه کېده، خو هېڅ مغروره نه وه، ځکه پاک زړه هېڅکله غرور نه کوي.

هغې د هغو ورځو یاد وکړ، چې ټولو ی ځوروله، سپکاوی یې ورته کاوه او پرې ملنډې وهل کېدې. اوس بیا هماغه نړۍ ویل چې هغه تر ټولو ښکلې مرغۍ ده.

د یاسمنو څانګې تر اوبو ټیټې شوې وې، لمر په مینه تودې وړانګې شیندلې،دغې مصیبت ځپلې بتې خپل ښکلې وزرونه وغوړول، نرۍ غاړه یې هسکه کړه او له زړه یې په خوښۍ وویل:

**«ما هېڅکله هم دومره ستره نېکمرغي نه وه تصور کړې، کله چې زه لا هغه بدرنګه کوچنۍ هیلۍ وم.»**

**پای**

## د ژباړن ( زمری محقق ) تبصره :

## نتیجه او پند :

د **Hans Christian Andersen** د **«بدرنګه هیلۍ»** کیسه یوازې د ماشومانو لپاره یوه تفریحي کیسه نه ده، بلکې ژور اخلاقي او انساني پیغامونه لري.

له دې کیسې څخه دا مهم پندونه اخیستلای شو:



**د انسان ارزښت په ظاهري بڼه نه ټاکل کېږي**

څوک چې نن کمزوری، بدرنګه یا بېوسه ښکاري، کېدای شي سبا د خپلو وړتیاوو له امله وځلېږي ..

**هر څوک خپل ځانګړی ځای لري**

هیلۍ ځکه ځورېده چې د بتو په منځ کې وه، خو کله چې د خپلو په شان هیلیانو ته ورسېده، خپله رښتینې ښکلا او ارزښت یې وموند ..

**صبر او زغم د بریا ته لاره هواروي.**

که څه هم هیلۍ له سپکاوي، یوازیتوب او سخت ژمي سره مخ سوه، خو په پای کې یې خوښي او عزت وموند .

**پر نورو ملنډې مه وهئ او هغوی مه سپکوئ**

هغه څوک چې نن پرې خندل کېږي، ښایي سبا د ستاینې وړ سي.

**ښه اخلاق له ښکلا څخه لوړ دي.**

د کیسې په پای کې هیلۍ مغروره نه شوه، ځکه چې ښه او پاک زړه غرور نه کوي .

**هیله باید هېڅکله له لاسه ورنه کړو.**

که ژوند هر څومره سخت سي، د ښه راتلونکي امکان تل سته نو ناامیده باید نه سو ..

د دې کیسې لنډه وینا دا ده:

**هیڅوک د ظاهري بڼې یا د ژوند د اوسنیو ستونزو له مخې مه قضاوتوئ؛ د صبر، زغم او ښه اخلاقو په وسیله هر انسان کولای شي خپل رښتینی ارزښت او ځای ومومي.**

**زموږ انګلیسي ویبپاڼه:**

DAWAT MEDIA 24

Yesterday, Today and Tomorrow Since 1988

**Donate Here**